
# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د جنوري لومړۍ | ۴۹۰یمه گڼه


## کتاب

۴ مخ

### مرکب اغېز




ښه ده چې د مرکب اغېز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملگرو کیسه وکړم: (دری داسې ملگري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا يې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.)

## د اروزگان د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست لپاره نوې ودانۍ گټې اخیستنې ته وسپارل شوه




د اروزگان د اطلاعاتو او کلتور ریاست لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د دې ودانۍ د پرانیستې په مراسمو کې د ځايي چارواکو تر څنگ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست رسول باوري هم گډون درلود.
پوهاند رسول باوري ویلي، دغه ولایت د هېواد د ۳۱ هغو ولایتونو په نوملړ کې ځای شو، چې د اطلاعاتو او کلتور ریاستونه يې خپلې ودانۍ لري. هغه ویلي چې د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست لپاره نوې جوړه شوې ودانۍ دوه پوړیزه ده، چې د ۲۴ میلیونو افغانیو په لگښت جوړه شوې او ټولې اړینې اداري خونې او نور ملحقات لري.
په ورته وخت کې د اروزگان د اطلاعاتو او فرهنگ رییس احمد ځلاند ویلي چې د یادې ودانۍ په جوړېدو سره به د دوی ستونزې هوارې او پراخه کاري زمینه به ورته برابره شي.

# د جگړو د دوام احتمال؛

## د سولې عالي شورا: د طالبانو او حکومت تر منځ د لیدلوري ټکر جگړه اوږدولی شي



۳

د سولې ټکنۍ پروسه او د ولسي فشار اړتیا
۲ مخ

د نوي میلادي کال په مناسبت د چین د دولت رییس پیغام
۲ مخ

افغانستان د اداري فساد په کړنگ کې
۳ مخ

## د سره صلیب کمېټه: داعش ډلې په شمالي ولایتونو کې د ځینو نورو وسله والو ډلو ملاتړ خپل کړی دی

په داسې حال کې چې څه موده وړاندې ولسمشر غني ننگرهار ولایت ته د خپل سفر پر مهال وویل، چې داعش ډله په افغانستان کې په بشپړه توگه ځپل شوې، خو تازه د سره صلیب نړیوالې کمېټې یوه جگپوړې چارواکي ویلي، چې یاده ډله توانېدلې چې د افغانستان په شمالي سیمو کې د ځینو وسله والو ډلو ملاتړ خپل کړي.
د دغې کمېټې د عملیاتو د برخې مشر ډومینیک ستیلهرټ د روسیې له تاس خبري آژانس سره په ځانگړې مرکه کې ویلي، چې په افغانستان کې شخړې په تېره بیا په وروستیو دوو- دریو کلونو کې بیا زیاتې شوې دي.
د هغه په خبره، یوه ستونزه چې دوی د افغانستان په شمال کې ورسره مخ دي، د شخړو یو تیت او پرک چاپېریال دی چې په زیاتېدونکي ډول سخت درېځې ډلې له اسلامي دولت یا داعش ډلې سره یوځای کېږي.
د ستیلهرټ په خبره، دوی دغه راز وینې چې د پخوا خلاف اوس شخړې تر ډېره ښاري سیمو ته غځېدلې، ځان وژونکي او تنظیم شوي بریدونه له یوې خوا او له بلې خوا هوایي بریدونه زیات شوي چې په نتیجه کې يې تر ډېره عام خلک وژل کېږي. په شمالي ولایتونو کې د داعش ډلې د فعالیتونو په تړاو د سره صلیب اداري دا اندېښنې داسې مهال دي، چې تر دې وړاندې د منځنۍ اسیا هېوادونو او د روسیې په شمالي ولایتونو کې د دې ډلې د فعالیتونو د ډېرېدو له کبله خبرداری ورکړی دی. د یادونې ده چې افغان حکومت د سره صلیب کمېټې د دې اندېښنې په تړاو څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې يې د داعش د له منځه وړلو خبر ورکړی و.

## که د کابل هوا په همدې ډول دوام وکړي، د ناروغانو شمېر به د پام وړ زیات شي



۵ مخ

## هزاران راننده در شاهراه هرات – فراه به دلیل اخذ پول غیرقانونی اعتصاب کاری کرده‌اند



بیش از هزار راننده موترهای باربری در شاهراه هرات – فراه به دلیل آنچه که اخاذی پولیس می‌خوانند اعتصاب کاری کرده‌اند. معترضان مدعی هستند که در شاهراه هرات – کابل هر راننده تا ۴۰ هزار افغانی می‌پردازد.
رانندگان موترهای باربری از روز جمعه به این‌سو، در منطقه میر داوود ولایت هرات تجمع کرده و دست به اعتصاب کاری زده‌اند.
غلام‌رسول، نماینده معترضان مدعی شده که بیشتر اخاذی در مسیر فراه تا کندهار است: «هر موتر ۴۸ هزار افغانی مصرف دارد، از هرات تا کابل. گمرکات غیرقانونی و پوسته‌های محلی دلارام، فراه رود، پوسته آتنن گرشک، کندهار، زابل و غزنی [وجود دارد]. به همین خاطر ما اعتصاب کرده‌ایم».
رانندگان معترض ادعا دارند که پولیس آنها را به دلیل نپرداختن باج لت‌وکوب کرده و دشنام داده‌است. آنها انتقاد می کنند که گوش شنوای برای اعتراض آنها وجود ندارد.
این در حالی است که سال گذشته نیز رانندگان موترهای باربری به دلیل اخاذی پولیس دست به اعتصاب کاری زده بودند، اما این اعتصاب با وعده مقام‌های افغان مبنی بر جلوگیری از اخاذی نیروهای امنیتی به پایان رسید.
جیلانی فرهاد، سخنگوی والی هرات می گوید که نمایندگان معترضان با هیئت اعزامی شورای امنیت ملی افغانستان دیدار داشته‌اند: «با هماهنگی مقام محترم ولایت هرات، نمایندگان معترضان با هیئت اعزامی شورای امنیت ملی دیدار داشته‌اند. انشاالله وعده داده شده که با افرادی که تخطی و تخلف می کنند و سبب آزار و اذیت شهروندان و مسافران و موترداران به خصوص در شاهراه‌ها می‌شوند، برخورد جدی صورت بگیرد».


Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـځ

## د سولې ټکنی پروسه او د ولسي فشار اړتیا


د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه څو میاشتې وړاندې نهايي شوې او یوازې لاسلیک یې پاتې دی. د دې هوکړې لاسلیک کله د ټرمپ پر یوه ټویټ ځنډېږي او کله هم د امریکا لـه خوا نوې غوښتنې د خنډ او ځنډ لامل شي. کله طالبان پر یوه خبره کلک ولاړ وي او دریځ یې نه نرمېږي او کله هم د ملي یووالي حکومت یو مخ دا پروسه مردود ګڼي. اوس امریکا له طالبانو د اوربند غوښتنه کوي، خو طالبان د تاوتریخوالي د مشروط کمولو خبره کوي. حکومت نه یوازې د سولې په دې پروسه کې کومه مرسته نه کوي، بلکې له افغان اړخه د پلاوي په ټاکلو کې ځنډ کوي او نورې ستونزې جوړوي. په دې سره د سولې رواني خبرې له ستونزو او خنډونو سره مخ دي. که څه هم د سولې هوکړه نهايي شوې او د بین الافغاني خبرو لپاره هم ژمنې شوې دي، خو بیا هم پایله ځنډېږي.

څومره چې د سولې د هوکړې لاسلیک او سوله ځنډېږي، همدومره د افغانانو وژنې او ځورونې دوام کوي. همدومره د افغانستان وراني او د افغانانو بدبختي اوږدېږي. د جګړې دریدل له ښکېلو اړخونو ډېر د ولس او عامو خلکو غوښتنه او اړتیا ده. د جګړې تاوان ولس ته رسېږي او د سولې ګټه به هم ولسویني. له همدې امله ولس غواړي چې دا جګړه ژر ختمه شي او د سولې هوکړه لاسلیک شي. د دې لپاره چې د ولس دا غوښتنه عملي شي، نو پکار ده چې ولس هم یو کار وکړي. که څه هم ولس په جګړه کې دی، وژل شوی او ځپل شوی، خو دا ځل دې یو متفاوت ګام واخلي. ولس ته پکار ده چې د جګړې پر ښکېلو اړخونو یو پراخ فشار راوړي. همدا د فشار راوړلو لپاره مناسب وخت دی او له شک پرته چې ولسي فشار د سولې پر وړاندې خنډونه له منځه وړلی شي او ښکېل اړخونه مجبورولی شي چې خپل دریځونه نرم کړي او د سولې هوکړه لاسلیک کړي. ولس دې اوس پر دریو اړخونو فشار راوړي. تر ګردو لومړی پر امریکا او ملګرو یې پراخ فشار پکار دی، څکه چې هوکړه نهايي شوې، خو امریکا یې له لاسلیک څان غړوي. له همدې امله پکار ده چې د پراخو لاریونونو او غونډو له لارې له امریکا وغوښتل شي چې د سولې هوکړه لاسلیک کړي. دویم پر طالبانو فشار پکار دی چې د سولې په برخه کې لا زیات نرمښت وښیي او له خپلو ځینو هغو شرطونو تېر شي چې په کور دننه د ستونزو سبب ګرځي. دریېم ولسي فشار باید د ملي یووالي پر حکومت وي. له حکومته باید وغوښتل شي چې د سولې په برخه کې مزاحمتي رول ختم کړي، د بین الافغاني خبرو لپاره ژر تر ژره د حکومت او نورو افغانانو ګډ پلاوی وټاکي او خپلې بې ځایه سرې کرښې او شرطونه ختم کړي.

له شک پرته چې یو پراخ ولسي فشار د سولې په برخه کې د شته خنډونو په له منځه وړلو کې مرسته کولی شي. له همدې امله اوس د ولسي فشار وخت دی. هغه سیاستوال، سیاسي ګوندونه او فعالین چې پر ولس یې زړه درد کوي، همدا یې وخت دی چې د خلکو د را ټولولو او د دغه مثبت فشار د ایجاد هڅه وکړي.

# د نوي میلادي کال په مناسبت د چین د دولت رییس پیغام

منبع: د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګه



**ملګرو، دوستانو، اغلو او ښاغلو!**

۲۰۲۰م ز کال نن پیل شو، زه د چین له پلازمېنې بیجېنګ څخه تاسو ته د نوي کال په مناسبت مبارکي او نیکې هیلې وړاندې کوم.

په ۲۰۱۹ ز کال کې زموږ د کوښښونو او هڅو په نتیجه کې زیات بریالیتوبونه تر لاسه شوي او د پرمختګ په لاره کې مو کلک ګامونه پورته کړي دي. په همدې کال کې ښه کیفیت لرونکی پرمختګ موندل شوی او د اټکل له مخې به د چین د کورنیو تولیداتو عمومي حجم یو لک میلیاردو ژن مین بي یوانو ته او د هر کس پر سر دغه اندازه به لس زره امریکایي ډالرو ته ورسېږي. د هېواد د پرمختګ په دریو برخو کې مهم بریالیتوبونه تر لاسه شوي دي. د بیجېنګ، تیان جین او هه بې تر منځ د ګډ پرمختګ، د یانګ څه سیند په اوږدو کې د اقتصادي کمربند د پرمختګ، د ګوانګ دونګ، هانکانګ او مکاو تر منځ د لوی خلیج د ابادۍ او د یانګ څه سیند د مثلثي ځمکې د ګډ پرمختګ په ګډون، لایحې د چټک پرمختګ په حال کې دي او د ژېړ سیند په اوږدو کې د ایکولوژیکي ساتنې او د ښه کیفیت لرونکي پرمختګ لایحه د ملي ستراتیژۍ په توګه ګرځېدلې ده. د دې تر څنګ به د چین په کابو ۳۴۰ ولسوالیو کې څه باندې ۱۰ میلیونه کسان له بېوزلۍ څخه ووځي. د چانګ عر څلورم نمبر سپوږمکۍ د سپوږمۍ په شا یانې ځمکنۍ کرې ته د سپوږمۍ په لرې خوا کې کښته شوې، چې دا د بشریت په تاریخ کې لومړی ځل و. د دریېمې ازموینې لپاره د چانګ جنګ پنځم نمبر وړونکي راکټ په بریالۍ توګه وتوغول شو. د شیو لونګ دویم نمبر علمي پلټونکې بېړۍ د لومړي ځل لپاره د ځمکنۍ کرې جنوبي قطب سیمې ته ورسېده. د بې دونګ په نامه د لاربښوونکو سپوږمکیو نړیوال سیستم د جوړېدو بهیر وروستۍ مرحلې ته ننوت. په سوداګریزه ساحه کې د G5 مخابراتي شبکې د کارولو ګامونه په چټکه توګه پورته شوي دي. د بیجېنګ د دا شینګ نړیوال هوايي ډګر په کار پیل کړی دی. یاد بریالیتوبونه په نوې زمانه کې د هڅوونکو کارګرو د وینو او خولو نښې او پایلې دي او له دې څخه د چین سترې بڼې او قوتونه څرګندېږي.

په تېر کال کې د اصلاحاتو او ورخلاصون پر اساس د چین د پرمختګ لپاره مثبت خوځنده ځواک رامنځ ته شوی دی، د چین د کمونېست ګوند او دولتي ارګانونو اصلاحات په بریالۍ توګه تر سره شوي، په چین کې د ازادې سوداګرۍ زیاتې ازموینتي حوزې او د شانګهای د ازادې سوداګرۍ په ازموینتي سیمه کې نوې حوزه جوړه شوه، علمي او تخنیکي نوښت چټک پرمختګ موندلی دی، د هېواد په قلمرو کې د تعرفو او لګښتونو د کمښت عمومي اندازه له ۲۰۰۰ میلیاردو یوانو څخه زیاته شوې ده. د دې تر څنګ، په همدې کال کې د هر کس پر سر د مالیاتو د اخیستلو د مبدا ټکی لوړ شوی، د زیاتو قلمو درملو بیې ټیټې شوې، د مخابراتي شبکې سرعت چټک شوی او بیه یې ټیټه شوې، د کټه ګوریو له مخې، د کثافاتو د پاکولو پر اساس د کاربن د ایستنې اندازه کمه شوې او د بېلابېلو ځایونو پر ابتدایي چاروکو باندې کاري دندې او فشارونه هم کم شوي دي. د چین په ګوټ ګوټ کې نوي بدلونونه او بڼې لیدل کېږي.

په تېر کال کې د چین د ملي دفاع چارو او اردو اصلاحات هم په جدي توګه روان وو او په نوې زمانه کې د ولسي اردو نوې قوي بڼه څرګنده شوې ده. د چین ولسي جمهوریت د جوړېدو د ۷۰یمې کالیزې د لمانځنې په پار مو رسم ګذشت تر سره کړ، د سمندري پوځ او د هوايي پوځ د جوړېدو د ۷۰یمې کالیزې د لمانځنې په هکله مو فعالیتونه تر سره کړل او د نړیوالو سرتېریو د اوومې دورې سپورټي لوبې مو تر سره کړې. د الوتکې وړونکې بېړۍ چې د لومړي ځل لپاره د چین له خوا جوړه شوې، په رسمي توګه د اردو په واک کې ورکړل شوه. ولسي سرتېري تل د هېواد د ساتلو لپاره د فولادي او اوسپنیز دېوال په شان رول لوبوي، نو راځئ چې د هېواد یادو ساتونکو ته درناوی وکړو.

د یادونې ده چې په ۲۰۱۹ ز کال کې د نوي چین د جوړېدو د ۷۰یمې کالیزې د لمانځنې مراسم تر سره شول. د دې تر څنګ مو د هغو بریالیتوبونو لپاره تودې چکچکې وکړې چې د چین ولسي جمهوریت له جوړېدو وروسته، په تېرو اویا کلونو کې تر لاسه شوي دي. د دې تر څنګ، د وطن پرستۍ د دومره قوي قوتونو شتون پر موږ ډېره ژوره اغېزه کړې. په رسم ګذشت کې عسکري ډلګۍ غښتلې او قهرمانې وې او عامو وګړیو هم د خوښیو ډکو لاریونونو کې ګډون وکړ. په همغه وخت کې تیان ان من میدان خوشحالۍ پر سمندر بدل شوی و. د چین ځمکې د سور رنګ جامې اغوستې وې او د هر کس پر مخ باندې ویاړلې خندا خوره وه. د (زه او زما وطن) په نامه سندره د هر کس په خوله وویل شوه. د وطن پرستۍ په احساساتو سره مو اوښکې توی کړې او د وطن پرستۍ پر اساس مو د ملت بام جوړ کړ. داسې ټول احساسات د نوي چین د ساتنې او په نوې زمانه کې د کوښښونو څپې دي او موږ ته یې ډېر قوت راکړی دی.

له تېر کال راهیسې مې د چین له زیاتو ځایونو څخه لیدنې کتنې وکړې. د شیونګ ان د نوې حوزې د ابادۍ لایحه د پلي کېدو په حال کې ده، د تیان جین بندر ښه کار کوي، د بیجېنګ شاوخوا سیمه سمسوره ده، داخلي مغولیستان ښکلی او په زړه پورې دی، د هه شي لرغونی دهلیز له زرګونو کلونو څخه په تېرېدو سره بیا سمسور شوی دی، ژېړ سیند ارام بهېږي او خلک د هوانګ پو سیند پر دواړو غاړو ښه ژوند کوي. د چین په ګوټ ګوټ کې سمسور انځورونه لیدل کېږي. دغه راز، ما د چین د انقلابي تاریخ او لارې له مخې د خپلې اصلي موخې د تر سره کولو لپاره کوښښ کړی دی. د جیانګ شي ولایت د یو دو په سیمه کې د اوږد مارش د شروع له ځای، د هه نان ولایت د شین شیان په ولسوالۍ کې د هو بې، هه نان او ان هوې ولایتونو د انقلابي سیمې د پخواني مرکز له انقلابي موزیم، د ګان سو ولایت د ګاو تای سیمې د انقلابي ځواکونو د لوېدیځ ځواک د یادګیرنې له ځلي او د بیجېنګ د شیانګ شان غره د انقلابي یادګیرنې له ځای څخه د لیدنې پر وخت مې خپله اصلي موخه او دنده پیدا کړه، چې دا په نوې زمانه کې د نوي اوږد مارش په لاره کې د ګام پورته کولو خوځنده ځواک دی.

د پخوا په شان مې د بوختو کارونو تر څنګ، په کلیوالو سیمو کې د ولسونو حال احوال پوښتنه وکړه. هغوی راته زیاتې خبرې وکړې او یادې خبرې زما په زړه کې پاتې دي. د یون نان ولایت د ګونګ شان په غرنۍ سیمه کې د دو لونګ قوم خلکو، د فو جیان ولایت د شوه نینګ ولسوالۍ د شیا دانګ په کلیو کې ولسونو، د وانګ جي په نامه عسکري ټولګي کې ټولو سرتېریو، د بیجېنګ د سپورټ پوهنتون د ماسترۍ په کچه د اتلولۍ مډال د اخیستونکو په ټولګي کې ټولو محصلینو، د مکاو ماشومانو او زړو داوطلبانو راته لیکونه واستول. ما دوی ته د ځواب ورکولو په لیکونو کې د دوی له خوا د تر لاسه شویو بریالیتوبونو ستاینه وکړه او نیکې هیلې مې ورته وړاندې کړې.

په تېر کال کې مو په ډېرو پېښو کې د زیاتو کسانو سرښیندنې احساس کړې. جانګ فو چینګ د خپلو افتخارونو په پټولو سره د خپلې اصلي موخې د تر سره کولو لپاره کوښښ کړی، هوانګ وین شیو د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره خپل ټول عمر کوښښ کړی، د سه چوان ولایت په مو لي سیمه کې ۳۱ اتلان د اور وژونکو لپاره قرباني شوي، دو فو ګوه د خپلو جنګي ملګرو د ساتلو لپاره ټپي شو، د چین د والیبال ملي لوبډلې په یوولسو مسلسلو مسابقو کې د بریالیتوبونو پر اساس، د نړیوالې اتلولۍ لومړی مقام تر لاسه کړ. سربېره پردې، زیات نور اتلان چې نومونه یې موږ ته نه دي یاد، د عام وګړي په توګه سترې چارې تر سره کوي.

په ۲۰۱۹ ز کال کې چین په پر له پسې توګه نړۍ ته د روغبړ غېږه ورکړه. موږ د یو کمربند او یوې لارې د نړیوالو همکاریو دویم سرمشریز فورم، د بیجېنګ د باغوانۍ نړیوال نندارتون، د اسیا د تمدنونو تر منځ ډیالوګ او د چین د وارداتو نړیوال نندارتون تر سره کړ، چې له دې څخه نړۍ ته د چین مدنیت، ورخلاصون او جامعیت څرګند شوی دی. دغه راز، ما د زیاتو هېوادونو له مشرانو سره کتنې وکړې او ورسره مې د چین دریځ شریک کړ. زموږ تر منځ دوستۍ پیاوړې شوې او ګډې نظریې ژورې شوې دي. لا زیاتو هېوادونو له چین سره رسمي اړیکې ټینګې کړې چې ټول شمېر په نړۍ کې ۱۸۰ هېوادونو ته رسېږي. زموږ دوستان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دي.

۲۰۲۰ ز کال د چین لپاره د پړاو د نښې په شان مهم اهمیت لري. په دې کال کې به موږ په هره ساحه کې سمسوره ټولنه جوړه کړو او د چین لومړی سل کلنه موخه به تر سره کړو. همدارنګه، ۲۰۲۰ ز کال د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره کلیدي کال دی او په دې جنګ کې د هوجوم اشاره غږول شوې ده. موږ باید د ستونزو په لرې کولو سره ګډ کوښښونه وکړو او باید د اړوندو کارونو بنسټ کلک کړو، څو د بېوزلۍ د له منځه وړلو په جنګ کې بریالیتوب تر لاسه کړو او د پلان له مخې هغه موخه تر سره کړو، چې په کلیوالو سیمو کې ټول کسان او ټولې ولسوالۍ له بېوزلۍ څخه ووځي.

څو ورځې مخکې مې چین ته د مکاو د حاکمیت د بېرته اخیستلو د ۲۰مې کالیزې د لمانځنې په مراسمو کې ګډون وکړ. زه د مکاو د سمسورتیا له امله خوشحاله یم. د مکاو له بریالیتوب څخه څرګندېږي چې په یو هېواد کې دوه سیاسي نظامونه پلي کېدای شي. په تېرو څو میاشتو کې د هانکانګ حالات د پاملرنې وړ وو. که همغږي او ثابت چاپېریال نه وي، خلک به ښه او نیکمرغه ژوند ونه لري. هیله لرم چې هانکانګ او د هانکانګ وطنوال به لا ښه شي. د هانکانګ سمسورتیا او ثبات د هانکانګیانو ګډ نیت دی او د هېواد د ټولو وطنوالو امید هم دی.

تاریخي سیند څپه په څپه پرمختګ کوي. څپې یې کله ارامې وي او کله د غره غوندې لوړې وي. موږ له هیڅ باران او باد او له هیڅ ستونزې څخه وېره نه لرو. چین به په ټینګه د سوله ییز پرمختګ په لاره کې ګام پورته کړي او د نړیوالې سولې د ساتلو او د ګډ پرمختګ د پیاوړتیا لپاره به کوښښ وکړي. موږ غواړو د بېلابېلو هېوادونو له خلکو سره یو ځای د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ، د بشریت د ګډ برخلیک د ټولنې د جوړولو او د بشریت د ښه راتلونکي د پرانیستلو لپاره ګډې هڅې وکړو.

په دې وخت کې زیات کسان پر خپلو کارونو بوخت دي، زیات کسان د سولې د ساتلو لپاره کوښښ کوي او زیات کسان زخمت ګالي، تاسو دې ستړي نه شئ!

موږ باید د ۲۰۲۰ ز کال د هرکلي لپاره نه ستومانه کېدونکي کوښښونه وکړو.

نوی کال مو مبارک شه!

# افغانستان د اداري فساد په کړنګ کې

لیکنه: فیض محمد ځدراڼ

دویمه برخه:

**۵- د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د ارادې نشتون**

د فساد پر وړاندې د جدي ارادې شتون د اداري فساد د له منځه وړلو په برخه کې د ذهنیتونو چمتو کېدو ته لاره هواروي. د سازمانونو او اداراتو رهبري پلاوي له فساد سره د مبارزې په موخه دا په ډاګه کوي، چې ګواکې د فساد د له منځه وړلو لپاره قوي اراده را منځ ته شوې؛ خو دا اراده په تېرو ۱۸ کلونو کې هېڅکله هم په جدي توګه مطرح نه شوه. که څه هم د ملي یووالي حکومت له پیله یو لړ هڅې د فساد د له منځه وړلو لپاره پیل شوې وې، خو بیا هم د فساد کچې ته په کتو کاپي نه دي.

**د فساد ډولونه**

په تېرو ۱۸ کلونو کې ښایي اکثره افغانان چې په تېره په ښارونو کې ژوند کوي، د اداري فساد له ډول ډول پېښو سره مخ شوي وي. لیکن هغه پېښې چې په کثرت سره د اداري فساد نوم یې لوړ کړی، پر لاندې برخو وېشل شوي دي.

**۱- په دولتي عوایدو کې فساد**

په ۲۱مه پېړۍ کې اکثراً د دولتونو د سیاست محور اقتصادي قوت دی، چې تر ډېره د مالیاتو، ځمکنیو زېرمو، صادراتو او دولتي خدماتو له وړاندې کولو څخه تر لاسه کېږي. په افغانستان کې له بده مرغه په تېره څه باندې یوه نیمه لسیزه کې تر ډېره فساد د دولت په عایداتي اداراتو کې تر سره شوی، چې د بېلګې په توګه کولای شو د ګمرکاتو، د مالیې راټولوونکو اداراتو، ښاروالۍ، برېښنا خدماتو رسولو او داسې نورو برخو څخه یې یادونه وکړو.

**۲- قراردادونه**

په قراردادونو کې فساد هغه موضوع ده چې تر ډېره د اداري فساد په وده کې یې رول لوبولی. اکثراً نړیوالې مرستې د بیارغاونې، معارف، روغتیا، برېښنا رسولو او نورو بنسټیزو پروژو په برخه کې لګول شوې، مګر د فساد شتون په لویو او بنسټیزو قراردادونو کې د دې لامل شوی، څو پروژې په ټیټ کیفیت تر سره شي او پاتې پیسې د دخیلو لوریو تر منځ ووېشل شي، چې دې چارې له یوې خوا د فساد معیاري کولو ته لاره هواره کړې او له بلې خوا یې د نړیوالو مرسته کوونکو تر منځ بې باوري رامنځ ته کړې ده.

**۳- بډې (رشوت)**

په عام ډول بډې په اداراتو کې پر یو رسم بدلې شوې دي، سیستم داسې جوړ شوی چې که یو څوک د یوې قانوني چارې لپاره یوې ادارې ته ورشي، نو مجبور دی چې د خپل کار د ژر خلاصېدو لپاره د اداراتو کارکوونکو ته بډې چې اکثراً د (شیریني) اصطلاح ورته استعمالېږي، په نظر کې ونیسي، څو چارې یې پر وخت خلاصې شي او د کوم خنډ او ځنډ سره مخ نه شي.

بله بېلګه یې دا ده چې د بډې په ورکولو سره غیر قانوني چارې په قانوني توګه تر سره کړي. د بېلګې په توګه، تر ۲۰۱۴ ز کال مخکې د دې امکان و چې یو څوک د بډې د ورکړې په مقابل کې د مشخصو کړیو له لوري ځان ته د دوولسم صنف شهادتنامه او یا تحصیلي اسناد جوړ کړي. دا اسناد مطلقاً اصلي اسنادو ته ورته وو چې د کُندې اسناد به یې هم د ښوونې او لوړو زدکړو مربوطه اداراتو کې د اصلي اسنادو په شان ثبت وو. په داسې حال کې چې د سند اخیستونکي به د ټولګي مخ هم نه و لیدلی.

**۴- په اداراتو کې ګومارنې**

د اداري فساد تر ټولو زیان رسوونکې برخه په اداراتو کې فساد شموله ګومارنې دي، چې له بده مرغه اکثریت ادارات ترې اغېزمن شوي. اکثراً په اداراتو کې ګومارنې د ښایسته سالارۍ پر بنسټ نه، بلکې یا د روابطو پر بنسټ او یا د بډې په ورکړې سره تر سره شوې دي.

پر دې سربېره، په اکثریت مواردو کې په اداراتو کې مافیایي کړۍ جوړې شوې، چې دې چارې په ګروپي شکل په اداراتو کې فساد ته لاره هواره کړې، چې له یوې خوا یې د اداراتو اجراآت اغېزمن کړي او له بلې خوا یې د ادارې حیثیت ته سخت زیان رسولی، چې د بېلګې په توګه کولای شو د ملي یووالي حکومت د بهرنیو چارو وزارت کړنو ته په تېرو څو کلونو کې اشاره وکړو.

**۵- مافیا**

افغانستان په تېرو ۱۸ کلونو کې له ډول ډول مافیایي کړیو څخه اغېزمن شوی. د مخدره توکو او اقتصادي مافیا بیا د اداري فساد په ترویج او زیاتوالي کې پراخ رول لوبولی.

مافیایي کړیو هڅه کړې چې د خپلو فعالیتونو جاري ساتلو لپاره ادارات تر خپلې ولکې لاندې راولي؛ بډې ورکړي، خپل کسان وګوماري، قراردادونه ونیسي او خپلې غیر قانوني چارې په اطمینان سره پر مخ یوسي، چې اکثراً د دې کړیو هڅه په ګمرکاتو، عایداتي ادارو، امنیتي، عدلي او قضایي ارګانونو کې وه او اوس هم پوره هڅې کوي .

**٦- په سکټوري اداراتو کې فساد**

سکټوري ادارات چې د یو هیواد د پایدارې ودې متضمن ګڼل کېږي، په تېرو ۱۸ کلونو کې د اداري فساد د شتون له کبله نه دي توانیدلي، څو اړینې چارې چې افغانستان ورته اړتیا لري، تر سره کړي. د تخنیک په برخه کې موږ تر ۹۵ سلنه بهرنیو هیوادونو ته اړ یو، د روغتیا په برخه کې تر اوسه هم آن په لویو ښارونو کې معیاري روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه لرو، د کرهنې په برخه کې لا اوس هم لومړنیو امکاناتو ته لاسرسی نه لرو او کرهنیز سیستم مو لا میکانېزه شوی نه دی، د ښوونې او روزنې په برخه کې مو تر اوسه هم درې میلیونه ماشومان ښوونځي ته لاسرسی نه لري او په سلهاوو میلیونه ډالر د خیالي ښوونځیو او ښوونکو په نوم د مفسدو چارواکو لاس ته ورغلي او بازار هم د مافیا له لوري کنټرولېږي، نه د دولت له خوا.

د یادونې وړ ده چې د نړیوالو مرستو بلیونونه ډالر په یادو برخو کې په مصرف رسیدلي، خو پایله یې د اداري فساد له امله خواشینوونکې ده.

تبعیض، نامشروع غوښتنې، د ظرفیتونو کموالی، د سیستمونو نشتون، استعداد وژنه او روابطو ته ترجیح ورکول یې نور لاملونه دي، چې افغانستان یې د مفسدو هیوادونو په لیکه کې درولی.

**د فرصتونو له لاسه تلل**

له بده مرغه افغانستان په تېرو ۱۸ کلونو کې د اداري فساد له امله ډېر فرصتونه له لاسه ورکړل. په میلیاردونو ډالر نړیوالې مرستې ضایع شوې، بنسټیزې پروژې عملي نه شوې، نړیوال مرسته کوونکي د فساد له امله تر ډېره بې باوره شول، اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې مخ پر خرابېدو دی، د ولس د بې باورۍ کچه ورځ تر بلې لوړېږي او انګیرل کېږي چې کلونه نور هم موږ په نړیوالو مرستو متکي پاتې شو.

**دوام لري...**

# د جګړو د دوام احتمال؛

## د سولې عالي شورا: د طالبانو او حکومت تر منځ د لیدلوري ټکر جګړه اوږدولی شي



د سولې عالي شورا وايي، د اوربند پر سر د طالبانو او افغان حکومت د لیدلوري اختلاف په هېواد کې د جګړو د دوام سبب ګرځي. د دې شورا مرستیال وايي، افغان حکومت پر اوربند ټینګار کوي، خو طالبان اوربند ردوي چې په دې سره به د سولې روانه پروسه زیانمنه شي او د جګړې ډګر به تر پخوا لا خونړی شي. له دې سره هممهاله د ولسي جرګې ځینې غړي بیا ټینګار کوي، چې طالبان باید اوربند ته غاړه کېږدي او د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری ونیسي.

بهرنیو او کورنیو رسنیو په پرله پسې توګه راپورونه خپرول چې د طالبانو له لوري اووه یا لس ورځنی عمومي اوربند اعلانېږي، خو طالبانو دغه اوربند رد کړ او په خبره یې، دوی د اوربند د بدیلې لارې پر سر مشورې کوي. اوس تازه د سولې عالي شورا وايي چې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د لیدلوري اختلاف او ټکر جګړې اوږدوي. د دې شورا مرستیال حاجي دین محمد وايي، د طالبانو له لوري د اوربند ردول او د حکومت له خوا بیا پر اوربند ټینګار د سولې بهیر پېچلی کړی دی. د هغه په خبره، که دواړه لوري پر خپلو مخکنیو شرطونو ټینګار وکړي، نو د دې احتمال شته چې جګړه اوږده او خونړۍ شي.

د سولې عالي شورا مرستیال ټینګار کوي چې د روانې جګړې اوسنی زیان عامو افغانانو ته اوړي او که دوام کوي بیا هم تر ټولو ډېر زیان عامو وګړو ته رسېږي، نو ځکه یې باید د ختمولو لپاره لارې چارې ولټول شي. دین محمد وايي: «که حکومت هم پر خپل شرط ټینګ ولاړ وي، په دې شرط چې حتماً باید اوربند وشي او که طالبان هم پر دې شرط ولاړ وي چې تاوتریخوالی کموي، خو اوربند نه کوي، نو جګړې به شدیدې شي، بیا به تر ټولو ډېر زیان عامو افغانانو ته اوړي».

بلخوا د سولې له بهیره ځینې باخبره کسان بیا روان  وضعیت خورا نازک بولي. د دوی په خبره، هره شېبه د دې امکان شته چې د سولې بهیر ګډوډ شي. پخواني طالب چارواکي عبدالسلام ضعیف ویلي، د دواړو لورو تر منځ د باور فضا نشته او بې باوري سولې ته زیان رسولی شي. ضعیف وايي: «د سولې چوکاټ په دوامداره توګه نازک وضعیت لري، هره شېبه د دې احتمال شته چې دغه بهیر د دښمنانه چلند او بې باورۍ له امله مختل شي». له دې سره هممهاله د جګړې ډګر خورا خونړی شوی دی. وروسته له دې چې طالبانو اوربند رد کړ، تازه طالبانو د هېواد په څو ولایتونو کې پر بېلو ولسوالیو بریدونه وکړل. پرون طالبانو د درزاب ولسوالي نیولې ده او په څو ورځو کې یې پر افغان ځواکونو ډېر بریدونه کړي دي. له دې سره هممهاله افغان ځواکونو هم پر طالبانو هوایي او ځمکني بریدونه کړي دي او دغه ډلې ته د درنې مرګ ژوبلې اړولو ادعا کوي. ویل کېږي چې په تېرو لسو ورځو کې د هېواد په څو ولایتونو کې تر پنځوسو نظامیانو ته د جګړې په ډګر کې مرګ ژوبله اوښتې ده.

بلخوا د ولسي جرګې ځینې غړي بیا وايي، جګړه هغه وخت ختمېدلی شي، چې تر هر څه وړاندې اوربند رامنځ ته شي. د ولسي جرګې د دفاعي کمېسیون غړی ابرارالله مراد وايي، که اوربند نه کېږي، نو د سولې خبرې هم بې پایلې پاتې کېږي. هغه وايي: «جګړه هغه مهال ختمېږي یا کمېږي چې اوربند وشي، که اوربند ونه شي، نو جګړه نه راکمېږي، چې دا ستره ستونزه ده».

طالبان بیا ټینګار کوي چې دوی اوربند نه کوي او د تاوتریخوالي کمولو لپاره پر یوه دویمه لار سلا مشورې روانې دي. امریکا او افغان حکومت بیا تر اوسه د طالبانو پر دغه پرېکړه غبرګون نه دی ښودلی. تر دې وړاندې طالبانو او افغان لوري دواړو ټینګار کړی دی، چې دغه ډله د سولې هوکړې لاسلیک لپاره باید اوربند ومني او بین الافغاني خبرو ته تیاری ونیسي.

# تر لنډمهاله ځنډ وروسته؛

## د ایران سپاه پاسداران ځواک په هورمز تنګي کې بله تېل وړونکې بېړۍ نیولې ده



د ایران سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو ویلي چې د تېلو هغه بېړۍ یې نیولې، چې په غیر قانوني ډول یې تېل لېږدول.

ایراني خبري آژانسونو راپور ورکړی، چې دغه بېړۍ چې څه باندې یو میلیون لېتره تېل یې لېږدول، په هورمزتنګي کې د ابو موسی ټاپو ته څېرمه درول شوې ده.

د ایران فارس خبري آژانس د دغه هېواد د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو د یوې اعلامیې په حواله ویلي، چې د تېلو دغه بېړۍ د یوه بهرني هېواد بیرغ لري، خو سرچینې د هغه هېواد نوم نه دی په ډاګه کړی.

په ورته وخت کې ایرنا خبري آژانس هم د ایران د سمندري ځواکونو د یوه قوماندان علي عظمایي له قوله ویلي چې په دې بېړۍ کې یو میلیون او ۱.۳۱۲ میلیونه لېتره قاچاقي تېل او ۱٦ مالیزیایي عمله نیول شوې ده.

دغه راز ځینو نورو ایراني رسنیو ویلي چې له دې بېړۍ سره یوځای ۱۲ بهرني وګړي چې د بېړۍ عمله وو، نیول شوي دي.

خو تر دې دمه هېڅ نړیوال سوداګریز شرکت یا بهرنیو حکومتونو په دې اړه څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران سمندري ځواکونه وخت ناوخت په فارس خلیج او هورمزتنګي کې د تېلو د قاچاق په تور کوچنۍ بېړۍ دروي، چې پراخ نړیوال غبرګونونه یې راپارولي دي.

خو له دغو غبرګونونو او خبرداریو سره سره، ایراني ځواکونو روان میلادي کال د نورو هېوادونو بیرغ لرونکې څو نړیوالې تېل وړونکې بېړۍ هم نیولې دي.

ایران وروسته له هغې دغه اقدام وکړ چې امریکا تېر کال پر ایران اقتصادي بندیزونه زیات کړل او د ایران د تېلو د صادراتو اونړیوالو مارکېټونو ته یې د دغه هېواد د لاسرسي مخه ونیوله.

په ورته وخت کې لوېدیځو هېوادونو د روان کال په سر کې د ایران یوه تېل وړونکې بېړۍ په دې تور ونیوله چې د دوی په خبره، د نړیوالو بندیزونو پر خلاف یې سوریې ته په پټه تېل لېږدول، خو له اوږدو ناندریو او جنجالونو وروسته دا بېړۍ بېرته خوشې شوه.

د یادونې ده چې ابو موسی جزیره چې د ایران په واک کې ده، د جغرافیایي موقعیت او ستراتېژیک اهمیت له کبله په تېرو څو لسیزو کې د ایران او عربي متحده اماراتو تر منځ د لانجې سیمه ده.

## د کتـــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**څلورمه برخه**

**پایله**

### یوولسم څپرکی




د امریکا پر بریاوو سربېره د هغوی په موجودیت کې د یوه کمزوري حکومت تر څنګ د جګړې ګواښ هم پر خپل ځای و. د ۲۰۱۳ز کال په جنوري کې له یوې غونډې وروسته، دوو ولسمشرانو، بارک اوباما او حامد کرزي د افغانستان د راتلونکي لپاره پر یوه کړنلاره هوکړه وکړه. هغوی دواړو د امریکا او افغانستان د ستراتیژیکو موخو او اړیکو پر ژمنتیا ټینګار وکړ چې پکې د سولې، امنیت، مذاکراتو، د افغانستان د دیموکراتیکو بنسټونو پیاوړتیا، او د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي او ټولنیزې پیاوړتیا ملاتړ او سیمه ییزې همکارۍ په څېر مسائل شامل وو. یوه میاشت وروسته، اوباما په خپله وینا کې له افغانستان څخه په ۲۰۱۳ز کال د ۳۴۰۰۰ سرتېرو د ایستلو پرېکړه وکړه چې د امریکایي ځواکونو نیمایي له افغانستان څخه وتونکي وو. دا سرتېري د پلان له مخې د ۲۰۱۴ز کال تر پایه له افغانستان څخه وتل، واشنګټن اوس د هغوی له لوري پر روزل شوي او تجهیز شوي پوځ بشپړه تکیه کوله چې د هر ډول انارشۍ مخه به نیسي.

دا ټولې هیلې د بریا څرګونه نه وو، ځکه نو په افغانستان کې لا د امریکا اوږدمهاله شتون ته اړتیا احساسېده. امریکا ونه توانېده چې د یوویشتمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې افغانستان ودان کړي. اوس یې نو باید داسې چاپېریال جوړ کړی وای چې له مخې یې خپله افغانانو خپل وطن ودان کړی وای. دا هرڅه هغه مهال شوني دي چې امریکا پر خپلو هغو ژمنو وفا وکړي، کومې یې چې له افغانستان سره په ډېرو تړونونو کې د اوږدمهالې همکارۍ او موجودیت لپاره کړې وې.

دوی باید خپلې ګټې د افغانستان له ګټو سره وتړي او افغانستان ته د ژوند کولو نوې ساه ورکړي. ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ز کلونه د امریکا د ازموینې او په افغانستان کې د امنیتي واک د انتقال کلونه دي. دا به د امریکا بله تېروتنه وي چې وغواړي د افغانستان سیاست پر خپله سلیقه عیار کړي، ځکه نو دا چاره یو ځل له روسانو سره تکرار شوې ده چې په پایله کې یې یو ځل بیا سیمې ته د واشنګټن پښه راکش کړه.

د افغانستان له دولت جوړونې سره ملاتړ او له پاکستان سره د واشنګټن بنسټیز بدلونونه باید اوږه پر اوږه مخکې لاړ شي. په ځانګړې توګه، یو نړیوال ائتلاف باید له دې ځان ډاډه کړي چې پاکستان نور د پښتنو سرحدي سیمې د ترهګرو له پټنځایونو پاکوي. د بې پیلوټه الوتکو بریدونه هېڅکله د ترهګرو له بریدونو څخه دا سیمه نشي خلاصوی. واشنګټن هم باید له خپل نفوذ د کابل او اسلام‌اباد په اړیکو کې د ښه والي لپاره کار واخلي او دا دواړه هېوادونه بیا له هند سره د خپلواکو هېوادونو په توګه اړیکې وپالي. له دې سره به هند او افغانستان د پښتنو او بلوڅو د سرحدي سیمو او د کشمیر په اړه د پاکستان اندېښنې لیرې کړي. د دې پر ځای چې د امریکا متحده ایالتونه افغانستان او پاکستان ته مرسته ورکړي، هغوی ته دې توان ورکړي چې هر یو یې عصري، همغږي او پرمختللی اقتصاد ولري.

واشنګټن هغه مهال مخته تللی شي چې ټولې اداري یې په همغږۍ د یوې موخې لپاره کار وکړي. له ۱۹۵۰ز لسیزې څخه ځینې وخت امریکا د پاکستان له پوځ سره د مرستو په برخه کې ډېره سخي شوې، ځینې نور وختونه یې بیا پرې د اټومي وسلو او یا د ترهګرۍ د ملاتړي هېواد په پېژندلو سره بندیزونه هم لګولي دي. په اوږده موده کې باید امریکا له دې ډول تګلارو ډډه وکړي او د یوه دیموکرات پاکستان د پیاوړتیا لپاره بنسټیز کار وکړي. له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو له وتلو سره، ناټو د خپلو اکمالاتو لپاره پاکستان ته نوره اړتیا نه لري. ښایي د سرتېرو له وتو سره د امریکا له افغانستان او پاکستان سره اړیکې هم کمرنګه شي.

**یو ولسواک پاکستان**

د ۲۰۰۸ز کال په پارلماني ټاکنو، د انتخاباتو پر معامله کې بنسټپال اسلامي ګوندونه مخکې لاړل، سېکولر یې څنګ ته کړل. د پاکستان د خلکو ګوند ملکي حکومت له یوې خوا له ترهګرۍ سره پر جګړه بوخت و، له بلې خوا یې د شفافیت او حساب ورکونې پر بنسټ د خدمتونو وړاندې کولو توان نه لاره، خو پر یو کار وتوانېدل چې هغه د ولسواکۍ پیاوړتیا وه، د پاکستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یوه ملکي حکومت خپله پنځه کلنه دوره د پوځ له کودتا او زور پرته پای ته ورسوله.

د ۲۰۱۳ز کال د مې په ټاکنو کې پاکستاني سیاستوالو د ولسواکۍ دوام ډاډمن کړ، خو دا ټاکنې له تاوتریخوالي تشې نه وې. د نېشنل عوامي ګوند پر غړو طالبانو بریدونه وکړل چې په ترڅ کې یې دې ګوند ټاکنې وبایللې. دا ماته د پښتنو سیمو د سولې لپاره ګواښونکې وه. د پاکستان په تاریخ کې یوې ملکي ټاکلې اداري خپل د واک ټاکلی قانوني وخت بشپړ کړ او په سوله ییزه بڼه یې واک بل ټاکل شوي ملکي حکومت ته تسلیم کړ.

د پاکستان نوي لومړي وزیر ته د نورو ستونزو تر څنګ د عامو خلکو په ژوند کې د اصلاحاتو برخه هم په میراث پاتې شوه. د نواز شریف مسلم لیګ ګوند د فدرالي پارلمان ډېرې څوکۍ ګټلې وې، هغوی په پنجاب کې هم بریالي وو، خو په بلوچستان کې بیا ائتلاف ته اړ شول. په خیبر پښتونخوا سیند ولایتونو کې تحریک انصاف ګوند او د پاکستان د خلکو ګوند ډېرې رایې اخیستې وې او خپله اداره یې پیل کړې وه. دواړه ګوندونه په اسلام‌اباد کې د اپوزیسیون برخې وې.

**دوام لري...**

# مرکب اغیز

◀ اکسوس کتابپلورنځی

ښه ده چې د مرکب اغېز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملګرو کیسه وکړم: (دری داسې ملګري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا یې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.

لومړی ملګری لېري نومېږي، دی خپل ورځني کارونه کوي، ژوند یې ښه دی یا خپل ژوند ښه ورته ښکارېږي، خو ځینې وخت زړه خوري چې هېڅ شی نه بدلېږي او هېڅ بدلون نه راځي.

دویم ملګری سکاټ نومېږي، ده څه واړه او ظاهراً بې ارزښته مثبت بدلونونه پیل کړي دي، دی هر شپه لس مخه مطالعه کوي، هره ورځ چې کار ته ځي، پر لاره نیم ساعت یو غږیز فایل اوري، زده کړه ترې کوي او الهام ترې اخلي. سکاټ په خپل ژوند کې بدلون غواړي او د بدلون هڅه کوي؛ خو ډېر شور یې نه دی جوړ کړی او شور نه کوي. په وروستیو کې یې د بریا په مجله کې یو مقاله لوستې ده، له هغه یې یوه مفکوره اخیستې او اوس یې په خپل ژوند کې عملي کوي. دی غواړي چې هره ورځ د خپلو خوړو له پلان څخه ۱۲۵ کالورۍ کمې کړي. سره له دې چې دا دومره لویه موضوع نه ده، دا کمی په خوړو کې د عادي بدلون له امله رامنځ ته کېدای شي. دا واړه کارونه هر وخت کېدای شي، د دې ترڅنګ یې د ورځې ۲۰۰ ګامه مزل هم پیل کړی دی، دا دومره لوی اقدامات نه دي چې ګنې لوی زړه ته به اړتیا ولري، دا کارونه هرڅوک هر وخت کولای شي، خو سکاټ دغو کارونو ته ژمن دی. دی پوهېږي چې دا کارونه دومره کوچني او ساده نه دي، خو که یې ونه کړي، په ډېرې اسانۍ ستونزې ورته پیدا کولای شي.

درېیم ملګری براډ نومېږي، ده یو څه بد کارونه کړي دي، څه وخت مخکې یې یو ټلویزیون واخیست، د پخلي خپرونه په کې ګوري او پخلی ترې زده کوي، د دې ترڅنګ یې نشه هم پیل کړې ده، دا شیان ورته دومره ډېر نه ښکاري، یوازې یې د دې لپاره کوي چې خوند ترې واخلي.

په پنځمه میاشت په دوی دریو واړو کې کوم بدلونه نه ښکاري، سکاټ هر شپه هماغسې مطالعه کوي او هر ورځ چې کار ته ځي، غږیز فایل اوري. براډ له ژونده خوند اخلي او لږ کار کوي. لیرې هم پر همغو ورځنیو چارو اخته دی. دوی هر یو په خپله خوښ ژوند تېروي او د خپل ژوند یوه الګو لري؛ خو پنځه میاشتې دومره وخت نه دی چې د دوی په حالت کې د کومه وده یا ځوړ وښیي. د دوی دریو واړو په وزنونو کې دومره توپیر نه دی راغلی، په لسمه میاشت هم لوی بدلون نه ښکاري، خو اتلسمې میاشتې ته چې رسېږي، په دریو واړو کې واړه بدلونونه وینو. دا بدلونونه په ۲۵مه میاشت کې نور هم لوېږي، په ۲۷مه میاشت کې د دوی ترمنځ لوی توپیرونه ښکاري او ۳۱مه میاشت کې دا توپیرونه دومره لوی ښکاري چې هره څوک ورته ګوته په غاښ پاتې کېږي. دا وخت به براډ ډېر چاغ شوی وي، سکاټ به ښایسته او مناسب ښکاري، هغه د ورځې ۱۲۵ کلورۍ کمې کړې دي او په دې توګه یې ۱۵ کیلوګرامه وزن کم کړی دی».




د مرکب اغېز خارق العاده قوت همدا او همدومره ساده دی. څوک چې مرکب اغېز د ځان په ګټه کاروي، له هغو خلکو سره ډېر توپیر لري چې همدا اغېز د ځان پر وړاندې کاروي. په دغو دواړو ډلو خلکو کې لوی او د پام وړ بدلونونه وي، مرکب اغېز ډېر جالب دی، جادو ته ورته دی، تر ۳۱ میاشتو وروسته چې کوم سړي د مرکب اغېز مثبت ماهیت کارولی وي، داسې به وي لکه یو کس چې بریالیتوب ته نږدې شوی وي، لوی بریالیتوب اصلاً د هغو وړو او ځیرکو ټاکنو پایله ده چې انسان یې پرله پسې کوي.

یاد کتاب تازه اکسوس چاپ کړی، د کتاب لیکوال ډارن هارډي دی، پښتو ژباړه یې میراحمد یاد او بیاکتنه یې احمدشا ویاړ کړې، چې ټولټال د شپږو څپرکو په درلودو سره په ۲۲۱ مخونو کې راټول شوی دی.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي.


## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ځان و پېژنئ (دویم چاپ) | عبدالله توابزی | ۱۰۰ؐ |
| ۲ | د کرنیزې پراختیا اقتصاد | محمود مهرووال | ۲۲۰ؐ |
| ۳ | فرهنگ اوزبیکی - دری | رحیم ابراهیم | ٤۰۰ؐ |
| ٤ | خپل ماشوم سم وروزئ | ډاکټر سال سیرور | ۱٦۰ؐ |
| ٥ | رنګیني کربښې | آمر محمد ذاکر افضلی | ٦۰ؐ |
| ٦ | له ژوند مې دا زده کړل | دوکتور مصطفی السباعی | ۸۰ؐ |
| ۷ | د ښځې اسلامي آزادي (د افراطیانو د شبهاتو ځواب) | د کتور محمد عماره | ۸۰ؐ |
| ۸ | زرتار | عطامحمد میاخیل | ۱۰۰ؐ |
| ۹ | بنسټیز حقوق او سیاسي بنسټونه | دوکتور محمد طاهر هاشمی | ۱٥۰ؐ |
| ۱۰ | یوسف بن تاشفین | نسیم حجازی | ۱٥۰ؐ |
| ۱۱ | کلیسا او اور | | ۱۳۰ؐ |
| ۱۲ | وروستۍ جګړه | | ۱٤۰ؐ |
| ۱۳ | د حرم تر دیاره | | ۸۰ؐ |
| ۱٤ | سپین ټاپو | | ۱۰۰ؐ |
| ۱٥ | وروستی مورچل | | ۱۲۰ؐ |
| ۱٦ | د غازي داستان | | ۷۰ؐ |
| ۱۷ | خاورې او وینې | | ۱۳۰ؐ |
| ۱۸ | د ترورمۍ مسافر | | ۱٦۰ؐ |
| ۱۹ | وطن یا کفن | نور البشرنوید | ۱٥۰ؐ |
| ۲۰ | داوودخان در چنکال ک ج ب | الف هارون | ۱۳۰ؐ |
| ۲۱ | مختصر تاریخ مطابع و جرائد افغانستان | عزیز الدین وکیلی پوپلزایی | ٥۰۰ؐ |
| ۲۲ | د ناکامو دولتونو رغاونه | محمد اشرف غنی او کلیر لاکهارټ | ۳۰۰ؐ |
| ۲۳ | توفان در افغانستان جلد اول ودوم مکمل | الکساندر لیاخفسکی | ۳۷۰ؐ |
| ۲٤ | د حیواناتو فارم (ناول) | جورج او رویل | ۸۰ؐ |
| ۲٥ | نازو( ناول ) | اصف مشال | ٦۰ؐ |
| ۲٦ | ACTIVE SKILLS FOR READING INTRO CD | Neli J anderson | ۲٤۰ؐ |
| ۲۷ | ACTIVE SKILLS FOR READING 1 CD | | ۲۰۰ؐ |
| ۲۸ | ACTIVE SKILLS FOR READING2 CD | | ۲۰۰ؐ |
| ۲۹ | ACTIVE SKILLS FOR READING 3 CD | | ۳۰۰ؐ |
| ۳۰ | ACTIVE SKILLS FOR RREADING 4 CD | | ۳۰۰ؐ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ   اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۴۷۲ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# روغتیا ته د ککړې هوا له امله شپږ اوښتونکي زیانونه

ژباړه: عزت الله پېژاند

ځینې د نظر خاوندان په دې اند دي چې د یوویشتمې پېړۍ وګړي د پاکې هوا د نه لرلو له امله بدبخته ګڼل کېدای شي؛ ځکه دوی وایي چې د ککړې هوا تنفس کول نه یوازې ستونزمن وي، بلکې خطرناک هم وي.

افغانستان د نړۍ یو له هغو هیوادونو څخه دی چې هوا یې ککړه ده او دا ستونزه په پلازمېنه کابل کې چې د شاوخوا شپږو میلیونو وګړو یو ګوربه ولایت دی، څو برابره ډېره ده، چې د ژمي په موسم کې دا ستونزه نوره هم زیاتېږي. ځکه په یاد موسم کې د دغه ښار ډېری اوسېدونکي د خپلو کورونو د تودولو لپاره له لرګیو، د ډبرو سکرو او ډېری نور یې له نامعیاري سون توکو څخه ګټه اخلي. په دغه ولایت کې د ډېرو موټرونو شتون چې اکثره یې دویم لاس، زاړه او آن استهلاک شوي وي، یاده ستونزه نوره هم پراخه کړې ده.

د ځینو باوري سرچینو شمېرې ښیي چې په افغانستان او بیا په ځانګړې توګه په کابل کې ککړه هوا د دغه ښار اوسېدونکو ته تر ترهګرۍ لوی او جدي ګواښ دی، چې تر اوسه یې مسوول چارواکي د مخنیوي په لار چارو کې پاتې راغلي دي.

دا چې ککړه هوا د انسانانو پر ژوند کوم ډول اغېزې لرلای شي، په دغه لنډه لیکنه کې یې لوستلای شی:

**۱ـ د هډوکو کمزوري کېدل**

د هوا ککړتیا پر پاراتاریوېډ غده چې په بدن کې د کلسیم کچه تنظیموي، ناوړه اغېز کوي. څرګنده ده چې د انسان د بدن هډوکي د کلسیم د ټیټې کچې له امله کمزوري کېږي او په آسانۍ سره ماتېږي. که تاسو د کابل په څېر د ککړې هوا په یو ښار کې ژوند کوی، نو غوره به وي چې په خپل بدن کې د کلسیمو د کچې د مالومولو لپاره ټاکلي روغتیایي مرکز ته ولاړ شئ او یا د پښو یا لاسونو د درد په صورت کې د هډوکو له ډاکټر سره وګورئ. په دې وروستیو کې د کابل ښار هوا ډېره ککړه شوې ده، ښه ده چې د لاس او پښو د هډوکو له درد څخه مخکې اړوند روغتیایي مرکز ته لاړ شئ او د خپل بدن د کلسیمو کچه معلومه کړئ.



**۲- د پوستکي ستونزې**

ککړه هوا ستاسو د بدن د پوستکي د ورو ورو سوریو د بندېدو لامل ګرځیدای شي، چې په پایله کې یې پر جلد یا پوستکي دانې راپورته کېږي. د هوا ځینې ککړې او زهرجنې زرې آن تر دې هم خطرناکې کېدای شي او د پوستکي د حساسیتونو، د پوستکي د شوړېدنې او آن د پوستکي د سرطان لامل ګرځي. نو که تاسو او یا ستاسو د کورنۍ نور غړي، په ځانګړې توګه ماشومان او زاړه کسان له دا ډول او داسې نورو ناروغیو سره مخ کېږي، غوره به وي چې یو ځل د پوستکي له کارپوه (متخصص) ډاکټر سره وګورئ. د ځینو رسنیو د خپرو شوو راپورونو له مخې، دغه نښې نښانې په دې وروستیو کې د کابل ښاریانو پر پوستکو ډېرې شوې دي او ډېری روغتیایي مرکزونو ته ډېر ناروغان له همدې وجې تللي دي.

**۳- د سترګو میکروبونه**

ستاسو سترګې چې ستاسو د بدن یوه حساسه او ډېره مهمه برخه ده، د بدن دا مهم برخه هم له ککړې هوا سره په تماس کې کېږي او ډېر ژر د ناپاکې هوا تر برید لاندې راتلای شي، چې د سترګو سوروالی، وچوالی، د اوښکو د سوریو بندوالی (د پوزې خوا ته د سترګو په دوو کونجونو کې د خیرو راټولېدل) او د سترګو سخت حساسیت ستاسو د سترګو د ناروغیو او اغېزمنتوب نښې نښانې کېدای شي. ښه به وي چې د خپلو سترګو د روغ ساتلو لپاره د سترګو متخصص ډاکتر ته لاړ شئ او له عینکو ګټه واخلئ.

**۴- تنفسي ستونزې**

تنفسي ناروغۍ د ککړې هوا له امله یوه تر ټولو عامه رامنځ ته کېدونکي ناروغي ده. کله چې تاسو ککړه هوا تنفس او د پوزې یا خولې له لارې یې ځان ته کش کړئ، نو له امله یې ستاسو بدن ته د هوا د ننوتلو درسته لاره (له پوزې تر سږو) اغېزمنه کېدای شي چې په پایله کې یې تاسو ته پرنجی، ریزش، ټوخی، نفستنګي، د سینې بندښت، سالنډې او ځینې نورې د سږو ناروغۍ پیدا کېږي. تاسو ته لارښوونه کېږي چې له پورتنیو ناروغیو څخه په هره یوه د اخته کېدو په صورت کې د ستوني او پوزې د یو کارپوه ډاکټر مشوره تر لاسه کړئ.

**۵- دماغي ناروغی**

آیا فکر کوی چې ستاسو د سر جمجمه دومره سخته ده چې کولای شي ستاسو ماغزه او دماغ د ککړې هوا له زیانه خوندي وساتي؟ له بده مرغه نه، ځکه ستاسو مغزو ته هغه وینه ځي چې د ناپاکې هوا له امله ککړه شوې وي، چې داسې ده، نو ستاسو دماغ څنګه خوندي پاتې کېدای شي؟ هغه کسان چې د ډېر وخت لپاره په ککړه هوا کې ژوند کوي، د ګنګستوب، سردردۍ، دماغي غبار (د ذهني تمرکز کموالی، ذهني پڅوالی، سرګیچي) او د فکري تمرکز د نشتوالي په شان ستوزو او ناروغیو سره مخ کېدای شي. وروستۍ څېړنې دا هم ښیي چې د انسان د حافظې د پاکېدو (الزایمر) د ناروغۍ یو لامل ککړه هوا هم کېدای شي.

**٦- د زړه ناروغی**

د زړه د ناروغیو یو څرګند لامل ککړه هوا ده، ځکه د دغه ډول هوا له امله ککړه شوې وینه نېغه زړه ته ځي او د زړه د رګونو او والونو د تنګوالي او آن بندښت لامل کېږي چې په پایله کې پر انسانانو د زړه حمله راځي.

**حللاره**

له پورتنیو عمده خطرناکو ناروغیو څخه چې ځینې یې وژونکې هم دي، د خلاصوالي لپاره موږ ټول باید په یوځایې توګه او یوازې ځان هر هغه کار وکړو چې د هوا له پاکوالي سره مرسته کوي. نو: راځئ چې د خپل کور او ښار د ځځلو له تنظیم او نیالګیو له ایښودلو څخه یې پیل کړو.

روغ بدن نیمه پاچاهي ده! د دې پاچایۍ په قدر پوه شئ!

## عامې روغتیا وزارت: که د کابل هوا په همدې ډول دوام وکړي، د ناروغانو شمېر به د پام وړ زیات شي

د عامې روغتیا وزارت چارواکو ویلي، که په کابل کې د هوا ککړتیا همداسې دوام وکړي، نو د تنفسي ناروغانو په شمېر کې به د پام وړ زیاتوالی راشي.

دا په داسې حال کې ده چې د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، په یوه اونۍ کې د ککړې هوا له کبله تر ۸۸۰۰ ډېرو ناروغانو روغتونونو ته مراجعه کړې ده.

د دې وزارت مرستیالې ماموسې زیور یوې خبري غونډې ته ویلي: «د تنفسي ناروغیو په اړه چې موږ یې په اړه وړاندوینه کولای شو، که د هوا حالت همداسې دوام وکړي، نو د ناروغانو شمېر به یې ډېر زیات شي، موږ یې اوس د ناروغانو په اړه دقیقې شمېرې نه لرو، خو دومره ویلای شو چې شمېر به یې زیات شي».

دغه راز یاد وزارت ورمه ورځ اعلان وکړ چې په تېره یوه اونۍ کې پر تنفسي ناروغیو اخته ۱۷ ناروغان مړه شوي دي.

د عامې روغتیا وزارت مرستیال فدا محمد پیکان ویلي چې په دې موده کې له ۸۸۰۰ ډېرو کسانو د تنفسي ناروغیو له کبله روغتونونو ته مراجعه کړې ده.

په ورته وخت کې د چاپېریال ساتنې ملي اداري هم ویلي چې د کابل ښار هوا تر بل هر وخت ډېره ککړه شوې ده.

یادې اداري ویلي چې د وضع شویو معیارونو په اساس باید ۲،۵ پي‌ام مضر ذرات په ۲۴ ساعتونو کې له ۷۵ پورته نه وي، خو په کابل کې بیا د دې ذراتو لوړه کچه ۵۵۵ او ټیټه یې ۹۷ ته رسېږي.

خو د دې اداري مسوولینو ویلي چې د دغه حالت د کنټرول لپاره یې پیل شوې پنځلس ورځنۍ کمپاین لا هم دوام لري او ټول هغه ښارګوټي او ودانۍ به وتړي چې د سون غیرمعیاري توکي سوځوي.

د دې اداري تخنیکي مرستیال عزت الله صدیقي ازادي راډیو ته ویلي چې د تېرو دوو ورځو کمپاین په ترڅ کې یې ۱۱ ښارګوټي او د ودونو هغه تالارونه تړلي، چې د سون له غیر معیاري توکو یې ګټه اخیسته.

نوموړي زیاته کړې: «کوم ۲۸ موارد چې ښودل شوي، د څېړنې پلاوي په ګوته کړي دي، خو شاید دا شمېر زیات شي، تر دې دمه د کمپاین په دوو ورځو کې د بېلابېلو ښارګوټو په ګډون، یوولس د ودونو تالارونه تړل شوي او دا لړۍ دوام لري، نن هم موږ عملیات لرو او د کمپاین تر اخره به یې ولرو».

دې اداري، کابل ښاروالۍ او کورنیو چارو وزارت ځینو ښارګوټو، هوټلونو او حمامونو ته امر کړی چې له اوبلنو ګازو استفاده وکړي.

## دین محمد: ولسمشر غني هڅه کوي چې د سولې عالي شورا جوړښت لغوه کړي

د ولسي جرګې له خوا د سولې په چارو کې د دولت وزارت د تشکیل تر تصویبېدو وروسته، د سولې عالي شورا چارواکو ویلي، دغه وزارت به په اوسنیو شرایطو کې د سولې په برخه کې کومه لویه لاس ته راوړنه ونه لري.

د دې شورا مرستیال حاجي دین محمد ازادي راډیو ته ویلي، ولسمشر محمد اشرف غني په دې فکر کې دی چې واک ته تر بیا ځلي رسېدو وروسته به د سولې عالي شورا اوسنی جوړښت له منځه وړي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې د سولې خبرې حساس پړاو ته رسېدلي او حکومت په دې اند دی چې بین الافغاني خبرې به د سولې په چارو کې د دولت وزارت له خوا مدیریت شي.

د هغه په خبره: «که ډاکټر صاحب اشرف غني او د ارګ پلویانو هوډ کړی وي چې سوله، د سولې په چارو کې د دولت وزارت یا هم بلې لارې راولي، ښه خبره ده، خو که داسې ونه شي، دا د ستونزو د پاسه د یوې بلې ستونزې جوړول دي، ځکه خلک یوازې غواړي جنګ بند شي».

خو بلخوا حکومتي چارواکي وایي چې د سولې عالي شورا په اړه به د نوي حکومت تر رامنځ ته کېدو وروسته پرېکړه وشي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني څو میاشتې وړاندې د یوه فرمان پر بنسټ د سولې په چارو کې د دولت وزارت رامنځ ته کړ او د خپل دفتر پخوانی رییس عبدالسلام رحیمي یې د دې اداري مشر وټاکه. ولسمشر همدا ډول د یوه بل فرمان پر اساس، د بشري حقونو په برخه کې د دولت وزارت جوړ او سیما سمر ته یې د دې اداري مسوولیت وسپاره.

اوس یوه نیوکه او اندېښنه دا ده چې حکومت په لوی لاس د موازي ادارو د جوړېدو لپاره لار پرانیزي.

د مشرانو جرګې غړي ګل احمد اعظمي ویلي، په یوه وخت کې د یوې دندې لپاره د دوو ادارو جوړول د ستونزې پر پراخېدو سربېره، بله لاسته راوړنه نه لري.

هغه زیاته کړې: «په داسې یوه وضعیت کې چې مالي امکانات مو ډېر کم دي او ان د مامورینو معاشات مو د نورو له پیسو تمویلېږي، د دې ډول موازي ادارو تصویب، بې له دې چې ستونزې پراخې کړي، بله کار نه شي کولای».

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د جنوري لومړۍ | ۴۹۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۱۰ | ۱٤ | ۱۰ | ۱۵ | ۱۰ |
| -۲ | ۲ | ۵ | ۳ | ۵ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۲:۳۵ | ماښام ۰٤:۵۳ | ماخوستن ۰۶:۲۳

## نړۍ



تر لندمهاله څنډ وروسته؛

## د ایران سپاه پاسداران ځواک په هورمزتنګي کې بله تېل وړونکې بېړۍ نیولې ده

۳

## راپورونه: په استرالیا کې د سختې اورلګېدنې له کبله ۱۲ تنه وژل شوي



د راپورونـو لـه مخـې، استرالیایي چارواکـو ویلـي چـې د دغـه هېـواد په بېلابېلـو ایالتونـو کـې د سـختې اورلګېدنې لـه کبلـه د قربانیانـو شـمېر ۱۲ تـه رسـېدلی دی.
دوی ویلـي چـې پـه دغـو ایالتونـو کـې زرګونـه خلـک لـه لګېدلـو اورونـو د ځـان ژغورنـې پـه پـار د سـمندر سـاحل خـوا تـه پـه تېښـته دي. پـه ورتـه وخـت کـې د مالاکوټـا سـیمې خلکـو ویلـي چـې د اور لمبـو اسـمان سـور کـړی او دوی پـه وحشـتناک حالـت کـې بېړیـو تـه ختلـي او لـه سـیمې یـې پښـې سـپکې کـړې دي.
پـه ورتـه وخـت کـې حکومـت ویلـي چـې لـه زیانمنـې سـیمې د خلکـو ایسـتلو لپـاره به پوځـي الوتکـې او بېړۍ ور ولېږي.
د یـاد ایالـت پولیسـو رویټـرز خبـري اژانـس تـه ویلي، چې پـه تـازه اورلګېدنـه کـې دوه نـور کسـان هـم وژل شـوي، چـې ورسره د روانـو اورونو له کبله د وژل شـویو شـمېر ۱۲ تـه رسـېدلی دی.
دوی همـدا راز زیاتـوي چـې پـه وېکټوریـا کـې څلـور او پـه نیـو سـوت وېلز کـې یو کـس لادرکـه دی. د وروسـتیو دوو قربانیانـو مـړي، چـې ویـل کېـږي پـلار او زوی دي، د نیـو سـوت وېلـز پـه کوربارګـو سـیمه کـې موندل شـوي دي. پـه دغه ښـارګوټي کـې د سـه شـنبې پـه ورځ اورلېګدنـه رامنځ تـه شـوه، چـې لـه املـه یـې ډېرې سـیمې وسـوځېدې.
پـه ورتـه وخـت کـې د دغـه هېـواد پـه مالاکوټـا کـې بیـا د اور وژنـې اداري چارواکـو ویلـي، بادونـو خپـل لـوری بدل کـړی او ورسره د اور مخـه هـم لـه دې ښـاره بـل لـور تـه اوښـتې ده.

## لاوروف: امریکا او اروپایي ټولنه دې له ایران سره د شوي اټومي تړون شرایط رعایت کړي



د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف ویلي، د امریکا متحده ایالتونه او اروپایي ټولنه دې یا د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي هوکړې شرایط رعایت کړي، یا دې دا هوکړه له منځه تللې وګڼي.
لاوروف دا خبرې په مسکو کې له خپل ایراني سیال محمد جواد ظریف سره تر کتنې وروسته کړې دي.
په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف له خپل روسي سیال سره په کتنه کې د اټومي تړون له اروپایي غړو هېوادونو خپله ناخوښي ښودلې او زیاته کړې یې ده:
«د اټومي تړون د ملاتړ لپاره اروپایي لاسلیک کوونکو عملي اقدامات نه دي کړي».
دا په داسې حال کې ده چې د ایران او د نړۍ د پیاوړو هېوادونو تر منځ دغه اټومي تړون چې د عمل ګډ هر اړخیز پلان هم بلل کېږي، له تهران څخه د اټومي فعالیتونو د محدودولو په بدل کې ځینې اقتصادي بندیزونه لرې کړي وو.
یاد اټومي تړون د ملګرو ملتونو د پنځو دایمي غړو جمع جرمني او اروپایي ټولنې له خوا لاسلیک شوی و، خو امریکا تېر کال له دغه تړونه د وتلو او پر تهران د نویو بندیزونو د لګولو اعلان وکړ. د متحده ایالتونو دغه بندیزونه هغه شرکتونه مجازات کولای شي، چې له ایران سره سوداګریزه راکړه ورکړه کوي.


## کمیسیون شکایات: ممکن ۹۰ درصد شکایات انتخاباتی در ولایات در ۱۵ روز بررسی شوند



کمیسیون شکایات انتخاباتی می‌گوید، ممکن است که ۹۰ درصد شکایات انتخاباتی در ولایات در ۱۵ روزی که برای این کار تعیین شده، بررسی شوند.
قاسم الیاسی، منشی و سخنگوی این کمیسیون دیروز در کابل به خبرنگاران گفته است که طبقه‌بندی و بررسی شکایات بیش از ۱۰ ولایت تکمیل شده است.
به گفته او، در کابل نیز از ۲۲۳۱ شکایت ۱۲۰۰ شکایت بررسی شده است.
او گفته است: «تصنیف‌بندی حدود ۱۵ ولایت تکمیل شده و کار بررسی را آغاز کرده‌اند. احتمالاً تا پایان امروز یا فردا تمام ولایات تصنیف‌شان تکمیل شده و بررسی‌ها را آغاز کنند».
الیاسی افزوده است که یکی از دلایل زمان‌گیر شدن کارها، ثبت تمامی شکایت‌های مربوط به انتخابات در کابل بوده است. به گفته او، اگر کار طبقه‌بندی شکایات در ولایات انجام می‌شد، این کار تا حال به پایان می‌رسید.
او همچنین گفته است، شکایاتی که در این کمیسیون ثبت شده اند، شامل جرایم، تخلفات و تخطی‌های انتخاباتی می‌شوند.
این عضو کمیسیون شکایات انتخاباتی افزوده است، کسانی که مرتکب جرایم انتخاباتی شده‌اند، شناسایی و به نهادهای عدلی و قضایی معرفی خواهند شد.
این درحالی است که بر اساس قانون، تخطی به عملی گفته می‌شود که به صورت اشتباهی صورت گرفته و تاثیرات جدی بر نتایج رای‌گیری ندارد، اما تخلف انتخاباتی به اقدامات خلاف قانون گفته می‌شود.
کمیسیون شکایات انتخاباتی تأکید می‌کند که در چارچوب قانون، لوایح و طرزالعمل‌های انتخاباتی عمل می‌کند و کارش را به صورت شفاف انجام می‌دهد.
در همین حال، برخی از نهادهای ناظر انتخاباتی پیشرفت کار کمیسیون شکایات انتخاباتی را رضایت‌بخش می‌دانند.
بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان یا فیفا می‌گوید، اگر کمیسیون نتواند در ۱۵ روز تعیین شده تمام شکایات را بررسی کند، باید پیش از پیش به نامزدان انتخابات اطلاع دهد.


## ژوند

## د ژوند ښایست ته ځان ورسوئ



پر ځان مسلط او برلاسي کېدل! څومره ښکلې جمله ده. دا کلمه یو الهام ښښونکی اغېز لري، هیله ښښونکې ده. ستونزې ننګوي، تحریکوي مو او خپلو غوره امکاناتو او استنیاوو ته مو ور پام کوي. د ژوند ډالۍ له یوه لوی مسوولیت سره یو ځای ده. هو، ژوند تل عادلانه نه وي، موږ تل د بهانه لټوونکو پېرودونکو، غوسه ناکه پلورونکو او موټر چلوونکو سره په اړیکه کې یو. له ستونزو او سختیو سره مخ کېږو، د یوازیتوب احساس کوو او یا هم د ښه‌توب او غوره والي لپاره له هڅو لاس اخلو. دا زموږ د ژوند یوه برخه ده، خو له دې سره سره، ستاسې په ژوند کې یو ښایسته څه شته، څو ستاسې ژوند ته ځلا ورکړي، له ترټلو زنځیرونو او خنډونو مو خلاص کړي، څو پر خپل ځان برلاسي شی او تسلط پیدا کړی. نن خپل ژوند ته ژمن شئ، چې مسیر مو بدلون وکړي.
نن ورځ دې موضوع ته ځانګړې کړئ چې څنګه کولای شی، پر ځان تسلط پیدا کړی. د ذهنیت په اړه مو فکر وکړئ، خپل خالص ارزښتونه او ورتیاوې مو وسنجوئ او وګورئ چې باورونه مو څه دي. خپلې وېرې وپېژنئ. خپل شخصي نبوغ او بشري پوټنشیل ته مو پام وکړئ. له منفي فکرونو لاس واخلئ. ډېر څه ولولئ، ډېر څه زده کړئ، د خپلې روغتیا د ساتلو لپاره کوښښ وکړئ، کوښښ وکړئ چې په کار کې مو غوره و اوسئ

## د هګۍ د ژېړو ډېر خوراک شریانونه بندوي



په کاناډا کې یوه تازه څېړنه، چې برېټانوی "انډیپنډنټ" ورځپاڼې خپره کړې، وایي، هرڅومره چې د هګۍ ژېړ ډېر وخوړل شي، هومره ورسره د وینې شریانونو ته زیان اوړي. څېړونکي وایي، د هګۍ ډېر ژېړ خوړل هغه ماده پیاوړې کوي، چې د وینې د شریانونو د بندښت لامل ګرځي. دوی زیاتوي چې په دې سره په رګونو کې د وینې تګ راتګ ټکنی کېږي چې دا کار د زړه د دریدو سبب هم کېدای شي.
څېړونکي وایي، دغه څېړنه یې پر شاوخوا ۱۲۰۰ کسانو تر سره کړې ده.
د څېړنې پایلو ښودلې ده، چې د وینې رګ بندوونکې ماده د عمر په زیاتېدو وده کوي، په تېره بیا کله چې سړی څلوېښت کلنۍ ته ورسېږي. دوی وایي، دا کټ مټ هماغه عمر دی، چې پر سګرېټ څکوونکي سړي د سګرېټو د ناوړه اغېزې څرګند څرک پیلېږي. په دې څېړنه کې څېړونکو ویلي، چې د هګۍ ژېړ د سګرېټو د اغېز له درېیمې برخې سره مساوي دی. ډاکټران وایي، د دې لپاره چې په لوی عمر کې د زړه پر ناروغۍ اخته نه شی، نو ښه ده چې د هګۍ د ژېړو په خوراک کې انډول په پام کې ونیسئ.